د مشرکانو سره په خپلو مالونو، خپلو ځانونو او خپلو ژبو سره جهاد وکړئ

له انس رضي الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمایلي: "د مشرکانو سره په خپلو مالونو، خپلو ځانونو او خپلو ژبو سره جهاد وکړئ".

[صحيح دی] [ابو داود، النسائي او احمد روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د کفارو پر ضد د جهاد او له هرې ممکنې لارې د هغوی د مقابلې لپاره پر هلو ځلو امر کړی، تر څو د الله کلمه لوړه شي، او لدې څخه: لومړی: د هغوی پر وړاندې په جهاد پیسې لګول؛ لکه د وسلو پېرل، پر مجاهدینو لګښت او داسې نور. دویم: په روح، نفس او بدن د هغوی سره مخ کېدل او هغوی په شا کول. دریم: په ژبه یې دین ته رابلل او حجت پرې قایمول، د هغوی رټل او رد پرې کول.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/64597

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee